# په هرات کې دوه ملایان خپل مابېن وژلي

د هرات ولایت په اوبې ولسوالی کې دوه طالب ځایي سرګروپان او ملایان د خپل مابېن په چاودنه کې وژل شوي دي  د هرات د والي ویاند جیلاني فرهاد دغه پېښه تایید کړه او زیاته یې کړه ملا کامران او ملا منیر غوښتل چې امنیتي ځواکونو په لاره کې ماین کېږدي چې په همدې وخت کې یې پرې چاودنه کړې او دواړه ځای پر ځای وژل شوي دي هغه وایي، دغه طالبان د ملا نسیم مبارز د ډلې غړي وو او د اوبې ولسوالی په شاینان کلي کې یې افغان ځواکونو ته ماینونه ځای پر ځای کول

طالبانو په دې تړاو لا څه نه دي ویلي، خو په هرات ولایت کې له څو ورځو راهیسې پراخ پوځي عملیات پیل شوي چې افغان حکومت په کې د ګڼو طالبانو د تسلیمېدو خبر هم ورکړی دی

# ...غړي هېوادونه د افغانستان جګړې ته اندېښمن دي

...ي د دغه
... او عراق
...له خورا
...و د ملګرو
...ي وېلي
افغانستان

کې د تروریزم قربانیان د ېږی. د بل هر هېواد په پرتله زیات دي. راپور زیاتوي چې القاعده او له دې شکې سره تړلې نورې جنګیالي چې طالبانېې ملاتړ کوي، د افغانستان لپاره اوږدمهالی ګواښ دی. داعش بله تروریستي ډله ده چې په راپور کې د افغانستان لپاره

لوی خطر بلل شوی دی. دې ډلې که څه هم په ننګرهار ولایت کې چې اصلي مرکز یې بلل کېدا، لویه ضربه ولیده، خو د ملګرو ملتونو د کارپوهانو راپور وایي، داعش ډلې پخوا ثابته کړې چې ارتجاعي خاصیت لري، نو ځکه لاهم جدي ګواښ دی



**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**